۶ مارچ، ۲۰۲۰

**د افغانستان د سولې په پروسه کې (اساسي اصول) ـ مدني ټولنه**
**مارچ ۶ـ۴ ، ۲۰۲۰بروکسل ، اروپايي ټولنه**

---

**د سولې ټولشموله پروسې لپاره (اساسي اصول) :**

د افغانستان مدني ټولنه په ټولیزه توګه د نړیوالې ټولنې د ځینو متحدینو د دریځ نیونو په اړه اندیښمنه ده چې هغوی به د دوو لسیزو لاسته راوړنو، او په ټولیزه توګه د افغانستان د خلکو د ګټو قرباني کیدلو اجازه ورکړي. پدې لاسته راوړنو کې د مدني خپلواکیو درناوی، په ځانګړي توګه د ښځو حقونه، د بیان ازادي، اساسي قانون، د بنسټونو جوړول، د قانون حاکمیت ته درناوی، او ښځینه او نارینه وو ته د کار او زده کړې مساوي فرصتونه شامل دي. دا لاسته راوړنې، چې د افغانانو او زمونږ د نړیوالو متحدینو دمالي او ځاني رغنده قربانیو ترلاسه شوي، باید خوندي پاتې شي.

(اساسي اصول) د تیرو دریو[۱] کلونو په اوږدو کې په افغانستان کې د ټولشموله سولې په اړه د مهمو سندونو لنډیز پراساس طرح شویدي او د مدني ټولنې استازو، میرمنو، ځوانانو، دټولنې غړو، په ټول افغانستان کې دقربانیانواستازو، او اروپا کې د مهاجرو۱۷ نماینده ګانو په ګډون[۲] د مدني ټولنې ۱۵۰ استازو سره په مشورې بشپړ شویدی. په پایله کې، د افغانستان د مدني ټولنې استازي کلک باور لري چې د تلپاتې اوربند او د سولې د یوې هر اړخیزې پروسې عملي کول په افغانستان کې د اوسنۍ شخړې د دوامداره سیاسي حل موندلو لپاره دوه بنسټیزې اړتیاوي دي.

د دې "اساسي اصولو" چمتو کولو څخه د افغانستان د مدني ټولنې هدف د خبرو اترو دواړو خواوو او په دې بهیر کې دخیلو افرادو ته د یو لاربسود رامنځته کول دي څو پر ټولو بنسټیزو موضوعاتو، میکانیزمونو او مقرراتو تمرکز وکړي چې د تلپاتې اوربند رامنځته کیدو لپاره لازم دي او د عامه خدمتونو د یو منظم مدیریتي سیستم رامنځته کول دي. همدا راز د یو منظم سیاسي، سوله ییز او ټولشموله افغانستان راګرځول دي.

<u>د افغانستان مدني ټولنه د ټولشموله سولې پروسې ته د خبرو اتروپه میز یوازې د قومي او جهادي مشرانو، وسله والو ډلو، او په سمبولیک ډول د یوڅومیرمنو د شمولیت په بڼه نه ګورې. بلکې دافغانستان مدني ټولنه غواړې چې د خبرو اترو پر میز باندې ریښتیني استازې شتون ولرې، په اجنډا کې د خبرو لپاره شامل موضوعاتو کې برخه ولرې، د خبرو اترو د ډول او د هغو په وړاندې د غټو ستونزو او ننګونو په اړه خپل نظر ورکړي، اود خبرو اترواداري چارو په برخه کې هم فعاله ونډه ولري.</u>

- **د افغانستان مدني ټولنه د اروپايي ټولنې څخه غواړي چې د خپلو سیاسي ، ډیپلوماټیکو او مالي سرچینو په وسیله د افغانستان مدني ټولنې دننه د اغېزمنو میکانیزمونو په جوړولو او عملي کولو کې مرسته وکړي، ترڅو یوه ټولشموله سوله ولرو.**

- **د افغانستان مدني ټولنه د اروپايي ټولنې څخه هیله کوي چې په افغانستان کې د هر اړخیزې سولې پروسې لپاره ددې "اساسي اصولو" سند د محتوی سره سم د تضمینوونکي په توګه، عمل او ملاتړ وکړي.**

د **پروسې** په اړه ، موږ غوښتنه کوو چې د سولې پروسه کې دا لاندې ټکي په نظر کې ونیول شي:

۱ـ د عملي او تلپاتې اوربند دڅارنې لپاره د تدابیرو نیولو له لارې د سیاسي موخو لپاره د تاوتریخوالي مخنیوي ته پاملرنه او رسیدنه، ترڅو تاوتریخوالی په فعاله توګه مدیریت شي، کم شي او په نتیجه کې د ښکېلو خواوو په واسطه په دایمي توګه له منځه لاړ شي. دواړه خواوې باید د خبرو اترو د سیاسي ستراتیژۍ په توګه د تاوتریخوالي بندولو لپاره پیاوړې او عمومي ژمنه وکړي

---

[۱] د بیاکتنې او لنډیز شوي اسنادو لیست لپاره ۱ ضمیمه وګورئ.
[۲] د لومړنې مشورتي مدني تولنې د ګډون کوونکې لاسلیک شوي لیست لپاره ۲ضمیمه وګورئ.

څو د خبرو اترو په بهیر د خلکو باور رامینځته شي، او د سولې راتلل د یو خوندي چاپیریال رامینځته کیدلو سبب شي چې افغانان د خپل پاشلي اقتصاد بیارغونه وکړي.

۲- د یو اصل په توګه د یوې ښې کړنلارې پېژندنه چې د یو واقعیت، پایښت لرونکې او غوره کړنلارې په رڼا کې، ومنل شي چې د سولې ترټولو دوامداره جوړجاړی رامنځته شي چې د ټولنې ټولې برخې پکې ګډون ولري، د عامه چلند اصول چې سیاسي حسن نیت ته وده ورکوي پکې شامل وي، د رسنیو لخوا مخرب چلند او د خبرو اترو لپاره د غیر ضروري شرطونو وړاندې کولو مخه ونیول شــي، د مینځګړو، تضــمین کونکو او څارونکو لخوا دعملي او روښـــانه پلانونو ملاتړ وشــي، په ســیمه ایزو او نړیوالو بنســټونوغړ وکړی شــي چې د ورانوونکو او دښــمنو وســله والو ډلو مقابله کې لازم ګامونه واخلي، او په عین حال کې د ګاونډیو هیوادونو مشروع اندیښنې په نښه کړي.

۳- د افغانســتان د پراخه وګړو او ګډونوالو تر منځ د ســولې جوړونې کلتور رامینځته کول او د معافیت کلتورله منځه وړل چې د خلکو پراخ ګډون ته او د هغوی د نظرونو وړاندې کولو ته وده ورکوي، کوم چې د افغاني ټولنې د کتې اخیسـتونکو لخوا د مسـتقیم اویا ډیجیټل سپارښتونو په بڼه د مدني ټولنې یا لوړ پوړومنځګړو له لارې د خبرو اترو پروسې اسانتیا لپاره ورکړل شي.

۴- د خبرو اترو په بهیر کې د ښــځو، ځوانانو، قبایلو، غلې شــویو غړونواو ګوښــه شــویو او مذهبي ډلو د حضــور تضــمین او اســتازیتوب، هغه که د خبرو په مېز کې د مســتقیم اســتازیتوب له لارې وي او که د موضــوعي ډله ییزو کارونو، د قربانیانو څرګندونو، د مېرمنو، ځوانانو، قربانیانو او نورو ټولو سفیرانو لېږلو، او یا د ځانګړو مشورتي هیأتونو جوړولو له لارې وي.

۵- د جګړې د قربانیانو پر وړاندې د ترسره شوې تاریخي او اوسنیو ناراضیتوبونو او بې عدالتیو د حل لپاره یوه مناسبه پروسه برابرول، ترڅو د هغو د نه تکرار او د مجرم د نه معافیت ډاډ ترلاسه شي.

۶- مدني ټولنې ځواکمني شــي څو وکړی شــي د عدالت غوښــتنې ، څارنې ، ســروې ، پلټنې ، خبر رســونې ، پوهاوي او څارنې له لارې د خبرو اترو پروسې ملاتړ وکړي.

د خبرو اترو اساسي **محتوی** په هکله ، موږ غوښتنه کوو چې د سولې په پروسه کې شویو هوکړو کې دا لاندې سپارښتنې پام کې ونیسي:

۷-«د مشروطیت غوښتنې» اصل، د دې لپاره ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې د افغانستان په سیاسي او ټولنیز جوړښت کې چې په هر ډول بدلون هوکړه کېږي، باید هم قانوني او هم منظمه توګه ترسره شـي او په نتیجه کې دولت همدا راز په ټول ځواک د افغانانو په خنګ کې وي، په رسمیت وپیژندل شي. په قانون کې هرډول بدلون باید د پیژندل شویو او اوسنیو پړاوونو له لارې ترسره شي.

۸-په ملي او محلي سطحه سیاسي او حکومتي هرشکل باندې چې هوکړه وشي، هغه کې د ښې حکومتولی په مساله تاکید وشي او د قانون پلې کیدل، او دهغو بنسټیزوحقونو ساتل، چې د اساسي قانون په واسطه تضمین شوي، او هم د منابعو او شتمنیو په روښانه او حسابي بڼه کارول پکې تضمین شي.

۹- په اساسي قانون کې د وګړو اساسي حقونو خوندي کولو او وده ورکولو په اړه د اساسي ارزښتونو او حقونو ساتنه، لکه د میرمنو او نورو ګوښه شویو او اقلیتي ډلو پورې اړوند حقونه، ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې د دوی په حقونو کی کمښت رانشي.

۱۰- په ټول افغانستان کې هنري حقونه او کلتوري میراثونه او د بیان د آزادي باید خوندي شي او ترویج شي. همدا راز دا حقوق په رسنیو کې هم خوندي شي.

۱۱- د ټولنیز ادغام پروګرامونو له لارې د جګړې له ډګر څخه د پخوانیو جنګیالیو راســتنول ، ځای پرځای کول او ټولنې ســره یو ځای کول، چیرته چې دوی او ځایي ټولنې ته د کاري فرصــتونو او دوامدار معیشــت زمینه برابره وي، په داســې بڼه چې د جګړې او یا غیرقانوني توکو لکه د نشه یي توکو له لارې اقتصاد پیاوړی نکړي.

۱۲- د اقتصـاد د ودې او پراختیایي پروګرارمونو په شمول عامو خلکو ته دې د سولې منابع برابرې شي چې د اقتصـاد پراختیا او کارموندنې لپاره پیاوړې سـتنې وي؛ کورنیو بې ځایه شـویو او مهاجرینو ته دې د راسـتنېدنې لارې چارې برابرې شـي. همدا راز هغو خلکو د زیان جبران دې وشي چې د نښتو پر وخت یې حقوق تر پښو لاندې شوې وي.

۱۳- په ټول هیواد کې دې د منظمو مالي او اداري چارو له لارې د افرادو د امنیت او بنسټي پرمختګونو ملاتړ وشـي. په افغانسـتان کې دې د اداري فسـاد پروړاندې د پالیسـیو په جوړولو او پلي کولو سـره، د سـولې تر رنګ ورسـته د هوکړه لیک نوي ترکیب ته د

رسیدو په خاطر دې په امنیتي سکتور کې د اصلاحاتو لپاره د سولې ملي خو په حقیقت کې سیمه ییز پروګرام لپاره لازم اقدامات ترسره شي.

د **بنسټیز ملاتړ** اړوند له نړیوالې ټولنې غواړو چې:

۱۴- د افغانستان د مدني ټولنې مالي او معنوي ملاتړ دې وکړي، تر څو د یاد چوکاټ او د افغانستان د «اساسي اصولو» ټولګې ته په پراختیا کې مرسته وکړای شي او په افغانستان کې د خبرو اترو یوې ټولشموله، رڼې او پایښت لرونکې پروسې ته ارتقاء ورکړي چې په نتیجه کې په افغانستان او بهر کې د همیشنیو نښتو حل رامنځته کړي.

۱۵- دا باید تضمین شي چې د افغانستان مدني ټولنه د عدالت غوښتنې، معلوماتو ورکونې، د اړیکو ټینګښت لپاره او همدا راز د مدني ټولنې د اندیښنو وړاندې کولو شریکولو لپاره منابع وړاندې کوي چې د هغو اندیښنو له جملې نه د مذاکرې په مېز کې د ټولو لپاره د انتقالي عدالت اړوند موضوعات دي. همدا راز په هېواد کې د ننه او بهر افغانانو او نړیوالې ټولنې سره د نظرونو شریکول، د یو خپلواک، جوړښت لرونکې، منظم او ځواب ورکوونکې میکانیزم وړاندې کول دي. د سولې د نورو پخوانیو پروسو د تجربو په پام کې نیولو سره، دا کار د انتقال د یو بنسټیزمناسب میکانیزم له لارې تضمینیدلی شي چې په مستقیمه توګه د یو بې پرې نړیوال ملاتړي په واسطه تامین شي.